المقدمة الجزرية

للعلامة الشيخ ابی الخیر شمس الدین محمد بن محمد بن محمد الجزري الشافعي المقرئ

عربی و پښتو

پښتو ترجمه وتشریح

قاری فضل الحق حقانی

محرر ومترجم کتب تجوید وقراءات بانی ومدرس
شعبه تجوید وقراءات فی بلوچستان پاکستان

الناشر

مکتبة القراءات والتجوید

کانسی روڈ کوئٹه بلوچستان



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

إِقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِلُحُونِ الْعَرَبِ

رواه مالك والنسائی عن حذیفة

المقدمة الجزرية

للعلامة الشيخ ابی الخير شمس الدين محمد بن محمد بن محمد الجزری الشافعی المتوفی ۸۳۳ھ

معه

تحفة الاطفال

للعلامة الشيخ سليمان الجمزوری

پښتو ترجمه وتشریح

قاری فضل الحق حقانی غفرله

الناشر

مكتبة القرأت والتجويد

کانسی روډ کوئټه بلوچستان

مکتبہ القرأت والتجوید کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

زما محترمو!

مانه څه پلېبنه وه چې د علامه جزريؒ د دې مبارکو شعرونو ترجمه په وطني ژبه ولیکم. زما او د علامهؒ څه مناسبت وو! هر کله چې ما ولیدل چې المقدمة الجزرية د علم تجوید د نصاب کتاب دی او مبتدی طالبان د هغه د اشعارو په مختصره ترجمه کولو کې د مشکلاتو سره مخامخ وه. او هیڅ څوک چې په میدان د تالیف او تصنیف کې ودي کار ته چمتو په سترګه نه شو.

نو مې توکل پر خدائ وکړ او شروع مې په وکړه. د مشکلاتو له کبله مې نظر ثاني هم نه پر وکړ: هیله ده د تقصیر پر ځایو نو مې هر لوستونکی اګاه کړي. او د اخروي نجات د ذریعه کر ځولو ته دعاوکړي. إن شاء الله که ژوند وو د علم تجوید کتابونه به په ښه خط، ښه کاغذ، ښه چاپ باندې ومینه والوته وړاندې کړو که څوک د مقدمة الجزريه په اړه نور تفصیل غواړي نو دی دې «الجواهر النقية» او شرح جزري، فوائد مرضيه» او معارف التجويد» او فوائد بهيّة» څخه کار واخلي.

د استاذانو څخه هیله ده چې و خپلو شاګردانو ته مقدمة الجزريه وه یاد کړي: نور هود خداوند پاک څخه د قرآن مجید عاملین غواړم والسلام علیکم

خوالحقیر الأنام و فضل الحق حقانی لیکلی
خادم تجوید و قراءات جامعه تجوید القرآن سرکی روډ کوټه

الناشر والطابع
مکتبة القراٰت والتجوید کانسی روډ کوټه

بسم الله الرحمٰن الرحيم

درسالی تعارف، حمد، اوصلوٰة درسالی نوم او د مضامینو فهرست

(١) يَقُولُ رَاجِي عَفْوِ رَبٍّ سَامِعِ
مُحَمَّدُ ابْنُ الْجَزَرِيِّ الشَّافِعِي

ترجمه: وائی داوریدونکی پروردګار د معافی امید لرونکی (چه د هغه نوم محمد دی) چه د (جزیری) اوسیدونکی د (محمد) زوی دی) او د مسلك په اعتبار سره شافعی دی. که چیری شافعی مرفوع صفت د محمد سی. او یا هغه جزیره د بنی شوافعو. که چیری شافعی مجروره او صفت د الجزری سی

مختصره ترجمه: داوریدونکی رب د عفوی او د رګذر امید لرونکی محمد بن جزری شافعی وائی:

(٢) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَصَلَّى اللّٰهُ
عَلٰى نَبِيِّهِ وَمُصْطَفَاهُ

ترجمه: ټول تعریفونه یواځی د الله د پاره دی. او رحمت کامله دِ نازل کړی الله پاك پرخپل نبی صلی الله علیه وسلم او پر خپل غوره کړی سړی باندې.

ترکیب: یقول، فعل مضارع، رَاجِی، اسم فاعل مضاف، عَفْوِ هم مضاف رَبٍّ" موصوف سَامِع صفت. دا مبدل منه محمد سره د جمله صفت بدل فاعل د یقول المحمد دا مقوله د یقول ده ١٢ از احقر فضل الحق حقانی عفرلهٗ۔

٣ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَصَحْبِهِ
وَمُقْرِئِ الْقُرْآنِ مَعَ مُحِبِّهِ

ترجمه: یعنی پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی. او ده پر آل باندې
او ده پر صحابه کرامو باندی. او د قرآن پر ښوونکو باندې د قرآن سره د
محبت لرونکو باندې هم:

٤ وَبَعْدُ إِنَّ هَذِهِ مُقَدِّمَهْ
فِيمَا عَلَى قَارِئِهِ أَنْ يَعْلَمَهْ

ترجمه: او د حمد او صلوة نه وروسته په تحقیق دا مقدمه (یوه ابتدائي)
رساله ده په هغه شیانو کښې ده چه د هغو پیژندل د دی قرآن مجید
پر تلاوت کوونکی باندی ضروری دی.

٥ إِذْ وَاجِبٌ عَلَيْهِمُ مُحَتَّمُ
قَبْلَ الشُّرُوعِ أَوَّلاً أَنْ يَعْلَمُوا

ترجمه: ولی چه واجب دی پردې قرآن ویونکو باندی داسی واجب چه
لازم کړ شوی دی دا چه معلوم کې دوی د قرآن حکیم شروع کولو نه مخکی

٦ مَخَارِجَ الْحُرُوفِ وَالصِّفَاتِ
لِيَلْفِظُوا بِأَفْصَحِ اللُّغَاتِ

ترجمه: وپیژنی مخارج او صفتونه د حروفو د پاره د دی چه اداکړه سی

دوی لره د قرآن مجید حرفونه د فصیح ترین لغت موافق .

(۷)

مُحَرِّرِي التَّجْوِيدِ وَالْمَوَاقِفِ
وَمَا الَّذِي رُسِمَ فِي الْمَصَاحِفِ

ترجمه: پر داسی حال کی چه عمده او بنا ښسته کوونکی بروی دوی یعنی د علم تجوید وینونکی تجوید، او د وقف او ابتداء ځایونو لره. او هم مخ ښایانو لره کره کوونکی وی کوم چه لیکل سوی وی په عثمانی مصاحفو او (قرآنو) کی

(۸)

مِنْ كُلِّ مَقْطُوعٍ وَمَوْصُولٍ بِهَا
وَتَاءِ أُنْثَى لَمْ تَكُنْ تُكْتَبْ بِهَا

ترجمه: هر هغه مقطوع (یعنی جلا لیکل سوی وی) او موصول (یعنی گډ لیکل سوی چه په دی قرآنو کی دی. او هم و پیژنی هغه تاء د تانیث چه د هاء په شکل نه وی لیکل سوی. ولی چه کوله تا " ۃ " په وقف کی په هاء سره بدلیږی نه او په تا " ت " .

(۱)

بَابُ مَخَارِجِ الْحُرُوفِ

باب دی په بیان کی د حروفو د مخرجو کی

(۹)

مَخَارِجُ الْحُرُوفِ سَبْعَةَ عَشَرْ
عَلَى الَّذِي يَخْتَارُهُ مَنِ اخْتَبَرْ

ترجمه: د حروفو مخرجونه اولس ۱۷ دی، دا مقدار په هغه قول باندی چه

هغه (سر ←) خو ښوي كوم چا چه دا مخارج ازمائيلي او تجربه كړي دي.[1]

(١٠)

فَأَلِفُ الْجَوْفِ وَأُخْتَاهَا وَهِيَ
حُرُوفُ مَدٍّ لِلْهَوَاءِ تَنْتَهِي

ترجمه: نو الف او هغه دواړه ملګرې (و، ی، مده) چه دي د دوئ مخرج جوف دئ. او دا حروف دري سره د مد حروف دي. چه پر هوا باندې تماميږي

ف: "فَأَلِفُ الْجَوْفِ وَأُخْتَاهَا" مختصره ترجمه دا سې هم كيږي "پس د الف او هغه د دواړو ملګرو مخرج جوف دئ.

(١١)

ثُمَّ لِأَقْصَى الْحَلْقِ هَمْزٌ هَاءُ
ثُمَّ لِوَسْطِهِ فَعَيْنٌ حَاءُ

ترجمه: بيا په اقصیٰ حلق كښې "همزه" او "هاء" اداكيږي مخرج دئ. بيا د دي حلق په منځ كښي د "عين" او "حاء" مخرج دئ.

(١٢)

أَدْنَاهُ غَيْنٌ خَاؤُهَا وَالْقَافُ
أَقْصَى اللِّسَانِ فَوْقُ ثُمَّ الْكَافُ[2]

ترجمه: د دي ادنیٰ حصه چي د خولي و طرفته ده د "غين او د "خاء" مخرج دی. او قاف چه دی د هغه مخرج د ژبي منتهیٰ يعني هغه پورتني حصه ده بيا كاف چه دی.

---

[1] په مخرجونو كي اختلاف په دري قسمه دي ١. خليل ابن احمد فراهيدي په نزد ١٧ دي. د سيبويه په نزد ١٦ او د فراء په نزد ١٤ دي ١٢ حقاني غفرله.

[2] د "وَالْقَافُ أَقْصَى اللِّسَانِ" ترجمه دا سې هم كيدي سي "او د قاف مخرج د ژبي بيخ الخ او همدا رنګه د "ثُمَّ الْكَافُ أَسْفَلُ" هم دا سې كيدي سي".

(١٣)
أَسْفَلُ وَالوَسْطُ فَجِيمُ الشِّينُ يَا
وَالضَّادُ مِنْ حَافَتِهِ إِذْ وَلِيَا

ترجمه: دکشنی کاف مخرج د قاف د مخرج نه لاندی (لږ دخولې طرفته) دئ او د ژبې او تالو منځ چه دی دا د جیم، شین او د «ی»، دی (چه غیر مده وی) او ضاد اداکیږی د ژبې د حافې نه مخرج چه هر کله چه یو ځای سی هغه (حافه)

(١٤)
الأَضْرَاسَ مِنْ أَيْسَرَ أَوْ يُمْنَاهَا
وَاللَّامُ أَدْنَاهَا لِمُنْتَهَاهَا

ترجمه: د لوړو غاښو د ژامې که چپ طرفته وی یا د دی حافې راسته طرفته وی. او لام چه دی د هغه مخرج حافی ادنیٰ (هغه طرف چی دخولی طرفته ده، د دې حافی تر اخره پورې.

سه دوَالکَافُ ترکه واللام الخ ترجمه همدا رنګه کیدلای سی. او مخرج دلام الخ او همدا رنګه
١٥ مخرج د «وَالرَّاءُ» ترجمه همدا رنګه کیدلای سی. فافهم:

(١٥)
وَالنُّونُ مِنْ طَرَفِهِ تَحْتُ اجْعَلُوا
وَالرَّا يُدَانِيهِ لِظَهْرٍ أَدْخَلُ

ترجمه: او نون او ګرځوی د دی ژبې دڅوکی څخه ادا کړئ. نون د لام څخه لاندی دی یعنی په نون کی ضواحکو لره دخل نسته « او "را" چه ده د هغی مخرج نون ته نږدې دئ. البته په "را" کی د ژبې شاه لره هم دخل لري.

(١٦)
وَالطَّاءُ وَالدَّالُ وَتَا مِنْهُ وَمِنْ
عُلْيَا الثَّنَايَا وَالصَّفِيرُ مُسْتَكِنْ

ترجمه: او طاء، او دال، او تا، ادا کیږی د ژبې د څوکې څخه. او د ثنايا عُليا وو د بیخو څخه. او د صفير حروف، سين، او صاد، زا، دی دا ادا کیږی.

(١٧)
مِنْهُ وَمِنْ فَوْقِ الثَّنَايَا السُّفْلَى
وَالظَّاءُ وَالذَّالُ وَثَا لِلْعُلْيَا

ترجمه: د ژبې د څوکې څخه او د ثنايا سُفلیٰ د پورته حصی څخه (یعنی د دننه کناره د غاښو) څخه. او ظاء او ذال او ثاء د پورته غاښو څخه ادا کیږي.

(١٨)
مِنْ طَرَفَيْهِمَا وَمِنْ بَطْنِ الشَّفَهْ
فَالْفَا مَعَ أَطْرَافِ الثَّنَايَا الْمُشْرِفَهْ

ترجمه: د دی دواړو ژبې او ثنايا عُليا د طرفو څخه. او فا ادا کیږي د لاندی شونډی د نس (د ننه حصی څخه) او د ثنايا عُليا وو د کنارو المشرفه پورته

(١٩)
لِلشَّفَتَيْنِ الْوَاوُ بَاءٌ مِيمُ
وَغُنَّةٌ مَخْرَجُهَا الْخَيْشُومُ

ترجمه: د شونډو د پاره "واو" غیر مده. او باء میم دي. یعنی د دی درو مخرج دواړه شونډی دي. او غنه چه ده د دې مخرج "خیشوم" د پزې حصه د ننه حصه ده. د کوم څخه چه اواز د غنې غنې راوځی.

التوضيح

مخارج جمع د مَخرج ده: په لغت کی مَوضع الخروج ته ویل کیږی یعنی د وتلو ځای: او اصطلاحی معنیٰ یې دا ده "حَیِزٌ مُوَلِّدٌ لِلحَرفِ" یعنی هغه ځای دی چې حرف ځنی پیدا کیږی.

مخرج پر دوه قسمه دی؛ محقق، مُقدر.

د محقق تعریف دا دی: جُزءٌ مُعَینٌ مِن اَجزاءِ الحَلقِ وَ اللسانِ وَ الشفتین:

د مقدر تعریف دا دی. جُزءٌ غیر مُعین،

مخارج محققه درې په حلق کی دی، دوه په شونډو کی دی او لس دی دا ۱۵ پنځلس مخرجونه سوه. پاته دوه مخرجه، ۱. خیشوم ۲. جوف دَهن. دا مخارج مقدره دي.

د مخرج معلوم کولو طریقه:

حرف ساکن که لکه، اَب، اَت، اَث، او همزه پر داخله کړه هر ځای چې آواز ختم سو هغه د ده مخرج دی.

مخرجونه د علم تجوید رکن اول دی باید مخرجونه ډیر مضبوط او عمده وی.

څوک چې مخرجونه عمده وی هم دوی به تلاوت بنائسته وی. ۱۲

ازاحقر الخلق فضل الحق حقانی غفرلہ
مدرس تجوید وقراءات جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

٢ بَابُ الصِّفَاتِ

باب دی په بیان د صفتونو دحروفو.

(٢٠)

صِفَاتُهَا جَهْرٌ وَّرِخْوٌ مُّسْتَفِلْ
مُنْفَتِحٌ مُّصْمَتَةٌ وَّالضِّدَّ قُلْ

ترجمه: ددی حروفو صفتونه ، جهر، رخوت، استفال، انفتاح او اصمات دی اوته وو ایه (بیان که) ددوی ضدونه هم.

(٢١)

مَهْمُوسُهَا فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ
شَدِيدُهَا لَفْظُ اَجِدْ قَطٍ بَكَتْ،

ترجمه: په دی حروفو کی، مهموسه په دی مجموعه کی جمع دي. فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ، په دی کی حروف شدیده د « اَجِدْ قَطٍ بَكَتْ » په مجموعه کی دي.

(٢٢)

وَبَيْنَ رِخْوٍ وَّالشَّدِيدِ لِنْ عُمَرْ
وَسَبْعُ عُلْوٍ خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ حَصَرْ

ترجمه: او په منځ کی د رخوت او شدت « لِنْ عُمَرْ » حروف د توسط دی. او د استعلاء او ه دی حرفونه په د « خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ » په مجموعه کی. او د دی مجموعی دا حروف ، اجمع کړیدي.

پوهه سه: چی د همس د مجموعی معنا ده: ودرو تر غیب ورکړی هغه چاچی خاموشه وو، د شدت د مجموعی معنی ده ما پیدا کړه قطعی ژړل یه، لِنْ عُمَرْ، معنی نرمی او کړه ای عمره د استعلاء د مجموعی معنی ده « قبر د تنگی دباره خاص کړل سوی دی ودرته بیداره اوسه ۱۲ از احقر فضل الحق حقانی عفی عنه.

(٢٣)

وَصَادُ ضَادُ طَآءُ ظَآءُ مُطْبَقَهْ
وَفِرَّ مِنْ لُبِّ الْحُرُوْفِ الْمُذْلِقَهْ

ترجمه، او "صاد" ضاد" طاء، ظاء، دحروف مطبقه وو تخزدی. اود "فرَّ مِن لُبّ" حروف مذلقه وو تخزدی.

پوهسه: چې دالس صفات متضاده دی یو دبل سره مقابل دی نه هیڅ حرف څندی خالی کیدلای سی او نه دوه ددی صفتو په یو حرف کی سره جمع کیدلای سی.

او په دې صفاتو کی یو صفت قوي او بل ضعیف دئ مثلاً جهر، شدت، استعلاء، اطباق، اصمات قوي دی او مقابل صفتونه ئې ضعیف دې.

از احقر فضل الحق حقانی غفرله

(٢٤)

صَفِيْرُهَا صَادٌ وَّزَایٌ سِيْنٌ
قَلْقَلَةٌ قُطْبُ جَدٍ وَّاللِّيْنُ

ترجمه: حروف صفیر په دوی کی صاد، زا، سین، دی، اود قلقلی حروف د "قُطْبُ جَدٍّ" دې. او د لین حروف.

(٢٥)

وَاوٌ وَّ يَاءٌ سَكَنَا وَانْفَتَحَا
قَبْلَهُمَا وَالْاِنْحِرَافُ صُحِّحَا

ترجمه: هغه د واو او یاء، دی چې هر کله دوی ساکن وی او د دوی دوارو څخه مخکی حرف باندی زور وی. او انحراف ثابت کړه سوی دی په

فِي اللَّامِ وَالرَّا وَبِتَكْرِيرٍ جُعِلْ
وَلِلتَّفَشِّي الشِّينُ ضَادًا اسْتَطِلْ ۲۶

ترجمه: لام او "را" کې. او د "را" په تکریر سره هم کړ شوی دی، یعنی په "را" کې صفت د تکریر دی. او شین د پاره تفشی ده یعنی صفت د تفشی په کښې دی. او په ضاد کې ته استطالت وکړه. یعنی په ضاد کې صفت د استطالت دی ادائی که.

فائده: چې دا صفتونه چې ذکر سوه غیر متضاده دی او ټول قوی صفتونه دي دوه په یوه حرف کې سره جمع کیږي لکه انحراف، او تکریر په "را" کې۔

از احقر فضل الحق حقانی غفرلہ

باب معرفة التجويد ۳

باب دی په بیان کې د تجوید پیژندلو۔

وَالْأَخْذُ بِالتَّجْوِيدِ حَتْمٌ لَازِمٌ
مَنْ لَمْ يُجَوِّدِ الْقُرْآنَ آثِمٌ ۲۷

ترجمه: او قرآن کریم د تجوید د قواعدو موافق ویل ضروري او لازمي دی. هغه څوک چه قرآن مجید په تجوید سره نه وائی هغه گنهگاره دی۔

فائده: چې د اکثرو فقهاوو قول پر وجوب د تجوید دی ولې چې خدای پاک وائی "وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا" کوم چې په صیغه سره د امر ده. او همدارنګه په حدیثو کې د تجوید متعلق یو لړ احادیث موجود دي" احقر فضل الحق خادم التجوید والقراءات.

(۲۸)

لِاَنَّهٗ بِهٖ الْاِلٰـهُ اَنْـزَلَا
وَهٰكَذَا مِنْهُ اِلَيْنَـا وَصَلَا

ترجمه: ددی وجې تجوید لازمردی چې. الله تعالیٰ قرآن مجید په تجوید سره نازل کړېدی. او همدا قرآن مجید دالله تعالیٰ د طرفه ترمونږ پورې هم دغسې په تجوید سره رارسیدلی دی.

(۲۹)

وَهُوَ اَيْضًا حِلْيَةُ التِّلَاوَةِ
وَزِيْنَةُ الْاَدَاءِ وَالْقِرَاءَةِ

ترجمه: او دا تجوید ددی نحو ماسوا) د تلاوت ښاپی دی. او ښایست د اداء او د قراءت هم دئ.

(۳۰)

وَهُوَ اِعْطَاءُ الْحُرُوْفِ حَقَّهَا
مِنْ صِفَةٍ لَّهَا وَمُسْتَحَقَّهَا

ترجمه: او دا یعنی تجوید ورکول دی وحروفوته د هغوحق یعنی د هغو صفتو سره اداکول کوم چه ددوئ سره لازم دی. او همدا رنګه ددوی هغه صفتونه چې ددوی سره لازم نه دی بلکه صفات عارضه دي.

له پوه سه. چې مصنف دلته لفظ د "الله" په "الاله" سره ذکر کړي دی اشاره ده. و اصل ته د لفظ د "الله" لکه په مراح الارواح کې چه وائي. او په "انزلا" او "وصلا" الف د تثنیې نه دی بلکه الف د اشباع دی دپاره د سجع شعر راوړل سوی دی ۱۲

احقر فضل الحق غفرله مدرسه تجوید القرآن سرکی روډ کوټه

(۳۱)

وَرَدُّ كُلِّ وَاحِدٍ لِأَصْلِهِ
وَاللَّفْظُ فِي نَظِيرِهِ كَمِثْلِهِ

ترجمه: او راگرځول دی د هر حرف وخپل اصل ته یعنی د هغه د خپل مخرج ځنې. او د هغه لفظ نظیر (مثل) کښې هم د هغه په مثل سره.

(۳۲)

مُكَمِّلًا مِنْ غَيْرِ مَا تَكَلُّفِ
بِاللُّطْفِ فِي النُّطْقِ بِلَا تَعَسُّفِ

ترجمه: په داسې حال کې چه کامل کوونکې به وی هغه قاري تجوید لره بیله څه تکلیف ځنې. په نرمرادا کولو سره اولطافت سره بیله د بې لارې اختیار کولو سره.

(۳۳)

وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ تَرْكِهِ
إِلَّا رِيَاضَةُ امْرِئٍ بِفَكِّهِ

ترجمه: او نشته په مابین کې د تجوید او د تجوید پریښوولو فرق. بغیر د دې چه انسان په خپلو ژامو سره ریاضت او مشق وکړي.

پوهسه: چې دا اخیری شعر د مضمون؟ ډیر جامع شعر دئ. ولې چه د تجوید د قواعدو تعلق تر مشق او تمرین کولو پورې تعلق لري. که د یو چا هر څومره قوانین د تجوید صرفًا او نحوًا زده وي خو تر څو چې دده دا قوانین با قاعده په قرآن مجید کې ترتیلًا تدویرًا تحدیرًا عمده نه وي فضول او عبث دي. بلکه زموږ دی عقیده یم چې د تجوید قواعد په کتابی شکل جوړول صرف او صرف د قواعدو د حفاظت پر بنیاد دی.

وَالعلمُ عِندَ اللهِ احقر فضل الحق حقانی غفرله

(۴۰) بَابُ اِسْتِعْمَالِ الْحُرُوْفِ

باب دی په بیان د حروفو استعمالولو او طریقو کې

(۳۴)
فَرَقِّقَنْ مُسْتَفِلًا مِّنْ اَحْرُفٍ
وَحَاذِرَنْ تَفْخِيْمَ لَفْظِ الْاَلِفِ

ترجمه: نو ضرور باریك و وایه ته هغه حرفونه چې مُستفله دی. او د پرهیز وکه د الف د تلفظ د ډکیدو څخه. (دا هلته چې دی مجاور د حروف مستعلیه)

(۳۵)
وَهَمْزَ اَلْحَمْدُ اَعُوْذُ اِهْدِنَا
اَللّٰهِ ثُمَّ لَامَ لِلّٰهِ لَنَا

ترجمه: او پرهیز وکړه د ډکوالي څخه د همزه د اَلْحَمْدُ، اَعُوْذُ، اِهْدِنَا،
او همزه د لفظ د اَللّٰه، لام د "لِلّٰهِ"، او همدا رنګه لام د "لَنَا"

(۳۶)
وَلْيَتَلَطَّفْ وَعَلَى اللّٰهِ وَلَا الضْ
وَالْمِيْمَ مِنْ مَّخْمَصَةٍ وَّمِنْ مَّرَضْ

ترجمه: او همدا رنګه ځان وساته د ډکوالی څخه د لام د "وَلْيَتَلَطَّفْ" او
لام د "عَلَى اللّٰهِ" په عَلَىٰ کښې او لام د "وَلَا الضَّآلِّيْنَ"، او دا غه رنګه ځان ساته
د ډکوالي څخه د میم په "مِنْ مَّرَضٍ". او په "مَخْمَصَةٍ" کی:

پوهسه: چې مصنفؒ څکه دا کلمات ذکر کړلي چه د لته مجاورت د لام او میم د حرف سره راغلی دی چې هغه د ډك ویل کیږی ۷ از احقر فضل الحق حقانی غفرله.

(٣٧)

وَبَاءِ بَرْقٍ بَاطِلٍ بِهِمْ بِذِي
وَاحْرِصْ عَلَى الشِّدَّةِ وَالْجَهْرِ الَّذِي

ترجمه: او ځان وساته د ډېر ليکولو څخه د باء بَرْقٍ، بَاطِلٌ، بِهِمْ او بِذِي، او ښه حرص کوه يعنى کوشش وکړه د شدت او جهر اداکولو کې کوم چه په

(٣٨)

فِيهَا وَفِي الْجِيمِ كَحُبِّ الصَّبْرِ
رَبْوَةٍ اجْتُثَّتْ وَحَجِّ الْفَجْرِ

ترجمه: باء کښې او په جيم کښې دي. د دې دواړو مثالونه لکه "حُبِّ" بِالصَّبْرِ رَبْوَةٍ، اُجْتُثَّتْ، بِالْحَجِّ او "اَلْفَجْرِ" په شان.

خلاصه: وَهَمْزِ الْحَمْدِ الى قوله بِهِمْ بِذِي. ترجمه داسې هم کيدلای سي او ته ضرور باريکه وايه د اَلْحَمْدُ اونورو همزه. او لام د لِلّٰهِ، اونور، هم اوګه ميم د "مَخْمَصَةٍ" باريك وَوايه. او هدارنګه د "بَرْقٌ" اونورو.

(٣٩)

وَبَيِّنَنْ مُقَلْقَلًا إِنْ سَكَنَا
وَإِنْ يَكُنْ فِي الْوَقْفِ كَانَ أَبْيَنَا

ترجمه: او ښه ښکاره کړه حروف قلقله وو کې قلقله هرکله چې دا حروف د قلقلې ساکن وي. او که چيرې دا سکون په وقف کې نو به هغه مقلقل نور هم زيات ښکاره وي.

پوهسه: چې دلته مصنف اشاره وکړه واقسامو ته د قلقلې چې پنځه قسم دي. ١. اعلیٰ ٢. عُليا. ٣. اوسط ٤. وسطیٰ ٥. ادنیٰ. د تفصيل دپاره كمال الفرقان وګوری ١٢ حقر فضل الحق حقانی

(٤٠)
وَحَاءِ حَصْحَصَ اَحَطْتُ اَلْحَقُّ
وَسِينَ مُسْتَقِيمٍ يَسْطُوْا يَسْقُوْا

ترجمه: او همدارنګه بنه ښکاره کړه حاء د، حَصْحَصَ، اَحَطْتُ، او، اَلْحَق، او همدارنګه بنه ښکاره کوه سین د، مُسْتَقِيمٍ، يَسْطُوْنَ، او، يَسْقُوْنَ، په ترتيب سره.



(٥) بَابُ الرَّاءَاتِ

باب دی په بیان د ټکوالی او باریکوالی د "ر" کی.

(٤١)
وَرَقِّقِ الرَّاءَ إِذَا مَا كُسِرَتْ
كَذَاكَ بَعْدَ الْكَسْرِ حَيْثُ سَكَنَتْ

ترجمه: او باریکه وایه "راء" هرکله چې هغه را مکسوره وي. همدارنګه هغه راء هم باریکه وایه چه دا ساکنه وي او مخته تر راء زیر وي.

(٤٢)
إِنْ لَمْ تَكُنْ مِنْ قَبْلِ حَرْفِ اِسْتِعْلَا
اَوْكَانَتِ الْكَسْرَةُ لَيْسَتْ اَصْلَا

ترجمه: که چیرې نه وي دا "را" تر حرف استعلاء د مخه. او بل شرط دا دی چې که د "راء" ساکنه څخه مخکی زیر وي خو دا زیر اصلی نه وي بلکه عارضی وي بیا هم دا "را" موکه ویل کیږي باریکه نه ویل کیږي.

(۴۳)

وَالْخُلْفُ فِي فِرْقٍ لِكَسْرٍ يُوجَدْ
وَاخْفِ تَكْرِيرًا إِذَا مَا تُشَدَّدْ

ترجمه: او خلف يعنى (د ډکولو او باريک ويلو) اختيار په «فِرْقٍ» کى د قاف د زير د وجى نه موجود دى. او ته پټ که عين تکرار په «را» کى هر کله چې په «را» باندې شد وى:

پوهه سه: چې هر کله چې په «را» باندې خپل حرکت وى نو په خپل حرکت نه اعتبار دى د زور او پېښ په وخت کى «را» ډکه ويل کيږى او د زير په وخت کى باريکه ويل کيږي. او که چيرې «را» ساکنه وى بيا د ما قبل حرکت ته کتل کيږى که په هغه باندې زور يا پېښ وى نو «را» ډکه ويل کيږى. او که زير وى باريکه ويل کيږى لکه بَرْقٌ. يُرْزَقُونَ. شِرْعَة. لکن د دې باريک والى د پاره درې شرطونه

يسته دا، چې تر «راه» وروسته به د حروف مستعليه و وځخه يو حرف نه وى که وى بيا د کسرې باوجود «را» ډکه ويل کيږي لکه «لَبِالْمِرْصَاد»

۲- دا چه دا زير به اصلي وى عارضى به نه وى که زير عارضى وى د زير باوجود «راه» ډکه ويل کيږى. لکه اِرْجِعُوا، چه همزه وصلى ده په درج کى د کلام غورځى.

۳. چې زير او «را» به په يوه کلمه کى وى که زير او «راه» په جلا جلا کلموکى وى بيا هم د دې زير اعتبار نه کيږى «را» ډکه ويل کيږى. لکه «رَبِّ ارْجِعُونَ»

خو د حرف استعلاء تفخيم په تفخيم کى د «را» هغه وخت تاثير کوي چه مفتوح يا مضموم وى او که مکسوره وى بيا د ذات د استعلاء د وجې ډکوالى او د حرکت له وجې باريکوالى دواړې وجهې جائز دي.

احقر فضل الحق حقانى بقلمه

(٦)

بَابُ اللَّامَاتِ

باب دی په بیان کی دلام دَ دکوالی او باریکوالی
په قاعدُوکی.

(٤٢)

> وَفَخِّمِ اللَّامَ مِنَ اسْمِ اللّٰهِ
> عَنْ فَتْحٍ اَوْضَمٍّ كَعَبْدُ اللّٰهِ

ترجمه: او ته دک وایه هغه لام لکوم چه د الله پاك پرنوم کښې وی داهلته چې د الله لفظ وروسته تر ضمې او وروسته تر فتحې وی. او که چیری وروسته تر کسرې وی بیا هلته باریك ویل کیږی.

پوهه سه: چې لام دحروف مستفله وڅخه دی ذاتًا باریك دی لکن په لفظ کی د اَللّٰهُ چې ځاسی دك ویل کیږی دفتحې او ضمې چې وروسته وی د دی دپاره چې دا عظمت لفظی په دلالت پرعظمت معنوی وکړی. او د کسرې چونکه ذات باریك دئ. نو په داسی حال کی لام دلفظ الله باریك ویل کیږی.

بلرخبره داده چې لفظ د اَللّٰهُمَّ کی هم دا غرقاعده ده کوم چې په لفظ کی د اَللّٰهُ دَه ولې چې اَللّٰهُمَّ په اصل کی "یَا اَللّٰهُ" وو "یا" حرف نداء حذف سوه په عوض د "یا" میم په اخِر کی راوړل سوه،

پوهه سه: چې لفظ د "اَللَّامَات" او "اَلرَّاءَات" جمع دی په اعتبار د انواعو ورنه "راء" او "لام" یو دی ۱۲

احقر فضل الحق حقانی غفرلہ

⑦ بَابُ الْاِسْتِعْلَاءِ وَالْاِطْبَاقِ

باب دی په بیان د استعلاء او اطباق کې۔

وَحَرْفُ الْاِسْتِعْلَاءِ فَخِّمْ وَاخْصُصَا
الْاِطْبَاقَ اَقْوٰى نَحْوُ قَالَ وَالْعَصَا ﴿٤٥﴾

ترجمه: او د استعلاء حروف پړك ووايه۔ او بنه پړك ووايه په دوی كی بیا هغه حروف د اطباق. سره د دا سی تفخیم چه زیات قوي وی د مجرد استعلاء تفخیم نه. د استعلاء او اطباق مثالونه لكه "قال" قاف، او په "عصی" كی صاد"

وَبَيِّنِ الْاِطْبَاقَ مِنْ اَحَطْتُّ مَعْ
بَسَطْتَّ وَالْخُلْفُ بِنَخْلُقْكُّمْ وَقَعْ ﴿٤٦﴾

ترجمه: او ته ښه ښكاره صفت د اطباق په "طاء" كی د "احطتُّ"، او د "بسطتَّ" او خلف په "نخلقكّم" كی واقع سوي دئ۔ دلته لفظ "مِنْ" جاره دی په معنیٰ د "فِي" ولی چه حروف جاره یو د بل پر ځای مستعملیږی د تشویش غم خبره نه ده۔

پوهه سه: چی دا قول د مصنف چی "وَالْخُلْفُ بِنَخْلُقْكُّمْ وَقَعْ" د خلف مطلب دا دی چی صفت د استعلاء په قاف كی باقی ساتل د مكی او نورو مذهب دئ او د قاف صفت د استعلاء نه پریښودل بلكه ادغام تام كول د علامه داني او د ده د پیروانو مذهب دئ۔ او همدا رنګه اول مذهب بصریانو او دوهم مذهب شامیانو اختیار كړی دئ۱۲ وَالعلم عند الله

احقر فضل الحق حقانی غفرلهٗ

۴۷

وَاحْرِصْ عَلَى السُّكُوْنِ فِيْ جَعَلْنَا
اَنْعَمْتَ وَالْمَغْضُوْبِ مَعْ ضَلَلْنَا

ترجمه: او ته کوشش کوه د سکون په ادا کولو باندې د هغه سکون چه د جَعَلْنَا په لام کې دې. د اَنْعَمْتَ په نون، او د غین پر سکون چې اَلْمَغْضُوْبِ کې دې او پر سکون د لام په "ضَلَلْنَا" کې.

۴۸

وَخَلِّصِ انْفِتَاحَ مَحْذُوْرًا عَسٰى
خَوْفَ اشْتِبَاهِهٖ بِمَحْظُوْرًا عَصٰى

ترجمه: او په ښه صفائۍ سره ادا کړه او ښه فکر وساته د انفتاح چې د "مَحْذُوْرًا" او د "عَسٰى" په ذال، او سین کې ستة. ولې که انفتاح په کښې صاف ادا نه سي نو بیره سته چې اشتباه به یه د "مَحْظُوْرًا" او د "عَصٰى" سره راسي.

بوه سه: چې که چیرې صفائۍ سره صفت د انفتاح صفت اداء نه سي نو د مَحْذُوْرًا معنیٰ ده "ځان ساتل" او د مَحْظُوْرًا معنیٰ ساتل نه ده. او د عَسٰى معنیٰ ده نزدې، او د عَصٰى معنیٰ ده نا فرماني. او د اسې نور۔ احقر فضل الحق حقاني.

۴۹

وَرَاعِ شِدَّةً بِكَافٍ وَّبِتَا
كَشِرْكِكُمْ وَتَتَوَفّٰى فِتْنَتَا

ترجمه: او ته لحاظ ساته صفت د شدت په کاف او په تاء کې مثال لکه شِرْكِكُمْ، او تَتَوَفّٰى، او فِتْنَتَا، په شان. ولې چه په دوی کې همس ضعیف دی شدت قوي.

۸ بَابُ الإِدْغَامِ

باب دی په بیان کی د ادغام

۵۰
وَأَوَّلَىْ مِثْلٍ وَّجِنْسٍ إِنْ سَكَنْ
أَدْغِمْ كَقُلْ رَّبِّ وَبَل لَّا وَأَبِنْ

ترجمه: اول حرف د مثلینو او اول حرف د متجانسینو که چیری ساکن وی نو اول حرف په دوهم کی مدغم که. د دی د دوارو مثالونه لکه قُل رَّبِّ، او بَل لَّا، او ته په اظهار سره ووایه،

۵۱
فِي يَوْمِ مَعْ قَالُوا وَهُمْ وَقُلْ نَعَمْ
سَبِّحْهُ لَا تُزِغْ قُلُوبَ فَالْتَقَمْ

ترجمه: په اظهار سره وایه، یا په "فِي يَوْمٍ" سره د واو د "قَالُوا وَهُمْ" او هم په اظهار وایه لام د "قُلْ نَعَمْ" په نون کی یعنی مدغمه ئی، او هاء په "سَبِّحْهُ" کی په اظهار سره وایه، او هم غین په "لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا" کی، او لام په "فَالْتَقَمَهُ" کی

پوهسه: چی په "فِي يَوْمٍ" او "قَالُوا وَهُمْ" کی ادغام نه کیږی ولی چه که ادغام وسی نو مدیت د واو او یاء به نه سی پاته حال الانکه مدیت ئی په اتفاق د قراو ثابت دئ. په قُل کی چونکه مخکی هم اعلال سوی که ادغام هم وسی اجحاف د کلمی یا به توارد د اعلالینو راسی. او حرف حلقی ثقیل دی د ادغام مخزیه نو، ثقل راځی نه تخفیف سره د دی چی مراد د ادغام محض تخفیف دی او هم د انور۱۲ حقر فضل الحق حقانی غفرله

خلاصه باب الادغام

پوهـ سـله: چې دلته خوشيان ملحوظ دي.

١- دادغام لغوي معنیٰ، اصطلاحي معنیٰ.

٢- اقسام دادغام، مثلين، متجانسين، متقاربين.

٣- اقسام دادغام تام، ناقص،

٤- اقسام دادغام كبير، او صغير.

تفصيل:

دادغام لغوي معنیٰ ده "إِدْخَالُ الشَّيْئِ فِي الشَّيْئِ".

اصطلاحي معنیٰ ده. جعل الحرفين بحيث يصيران حرفا واحدًا مشددًا. وغيره

مثلين: هغه ادغام د دوو حروفو دی چې مخرجًا صفتًا او ذاتًا يو وي لكه باپه با، كې ميم په ميم كې ادغام

متجانسين: ادغام د داسې دوو حروفو چې مخرجًا يو وي او ذاتًا جلا جلا وي لكه "لَقَدْ تَّقَطَّعَ".

متقاربين: ادغام د داسې دوو حروفو چې اتحاد مخرجًا يا صفتًا ولري لكه داغه "أَلَمْ نَخْلُقكُّمْ".

تام. هغه ادغام دی چې د اول حرف يو صفت پيدا نه سي لكه مِنْ رَّبِّكَ.

ناقص: هغه ادغام دی چې د اول حرف يو صفت پاتې سي لكه مَنْ يَّقُولُ. په كې غنه د نون نه

كبير: هغه ادغام دی چې اول حرف يو وار ساكن سي بيا ادغام وسي نو كاري لوي دی.

صغير: ادغام د هغه حرف دی چې ساكن وي صرف ادغام وغواړي.

باب في الفرق بين الضاد والظاء ⑨

باب دی په بیان د فرق په مابین د ضاد او ظاء کښې۔

(٥٢)

> وَالضَّادَ بِاسْتِطَالَةٍ وَّمَخْرَجٍ
> مَيِّزْ مِنَ الظَّآءِ وَكُلُّهَا تَجِيْ

ترجمه: او ضاد پاء صفت د استطالت چې په ضاد کی دی جلائ که د ظاء څخه او همدارنګه د مخرج د جلا والی په وجه۔ او دا ټول الفاظ به په راتلونکو الفاظو کښې په ګوته سي۔

(٥٣)

> فِي الظَّعْنِ ظِلِّ الظُّهْرِ عُظْمِ الْحِفْظِ
> أَيْقِظْ وَأَنْظِرْ عَظْمِ ظَهْرِ اللَّفْظِ

ترجمه: یعنی ظعن، ظِلِّ الظهر، عُظمِ الحِفظ، ایقِظ، أَنظِر، عَظم ظهر او اللفظ، چې په دې ټولو الفاظو کښې په ظاء سره دي۔

(٥٤)

> ظَاهِرُ لَظًى شُوَاظُ كَظْمٍ ظَلَمَا
> أُغْلُظْ ظَلَامِ ظُفُرٍ انْتَظِرْ ظَمَا

ترجمه: او ظاهر، لَظی، شواظ، کَظم، ظَلَمَ، اُغلُظ، ظلام، ظفر، انتظر او د ظَماءُ په ماده کښې دا ټول په ظا سره دي۔

(٥٥)

أَظْفَرَ ظَنًّا كَيْفَ جَا وَعْظِ سِوَىٰ
عِضِيْنَ ظَلَّ النَّحْلِ زُخْرُفٍ سَوَا

ترجمه: په أَظْفَرَ کښې په ظاء سره دی، ظَنًّا چه څرنګه راسی کوم صیغه وی دا ټوله په ظاء سره دی. وَعْظُ په ظاء سره دی. ماسواد "عِضِيْنَ" څخه ولې چه هغه په ضاد سره دی. او په ظَلَّ کښې چه په ظاء سره دی په سورة نحل کی او په سورة زخرف کی دواړه سره برابر دی په ظاء سره دی د دی سببه په دواړو ځایونو کی په یوه صیغه سره دی۔

(٥٦)

وَظَلْتَ ظَلْتُمْ وَبِرُومٍ ظَلُّوا
كَالْحِجْرِ ظَلَّتْ شُعَرَا نَظَلُّ

ترجمه: او همدارنګه په ظاء سره دی "ظَلْتَ" او "ظَلْتُمْ" کښې او په هغه نَظَلُّوا کی کوم چه په سورة روم کښې دی. او په سورة حجر کښې "فَظَلُّوا" په هغه شان سره دی یعنی په ظاء سره دی. سره د ظَلَّتْ، چه په سورة شعرا کښې دی سره د نَظَلُّ"

(٥٧)

يَظْلَلْنَ مَحْظُورًا مَعَ الْمُحْتَظِرِ
وَكُنْتَ فَظًّا وَجَمِيعَ النَّظَرِ

ترجمه؛ همدارنګه په ظاء سره دی. يَظْلَلْنَ، او مَحْظُورًا سره د الْمُحْتَظِرِ، او كُنْتَ فَظًّا، کښې. او د "نَظَرُ" په ټولو مشتقاتو صیغو کښې په ظاء سره دی.

وللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولمن سعى فيه كتبه ورتبه احقر الأنام فضل الحق حقاني

(٥٨)

إِلَّا بِوَيْلٍ هَلْ وَأُولَى نَاضِرَهْ
وَالْغَيْظِ لَا الرَّعْدِ وَهُودٍ قَاصِرَهْ

ترجمه: لکن نه په سورة "وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ" او د سورة هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ" په سورة مطففين کښې "نَضْرَةَ النَّعِيْمِ" او په سورة دهر کې نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا. او سِوا د سورة قيامه مخه، "وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ". وليچې دا الفاظ په ضاد سره دي نه په "ظاء" سره. او ما سِوا د "غَيْظ" مخه نه هغه چه په سورة رعد کښې دی وليچې په رعد کې "وَمَا تَغِيْضُ الْأَرْحَامُ" او په سورة هود کې "وَمَا ضَ الْمَآءُ" وليچه دا الفاظ په ضاد سره دی نه په ظاء سره" وليچه د لته په معنیٰ د نقصان او د کمولی دي. حتر فضل الحق حقانی عُفِرَ.

(٥٩)

وَالْحَظِّ لَا الْحَضِّ عَلَى الطَّعَامِ
وَفِيْ ضَنِيْنٍ الْخِلَافُ سَامِيْ

ترجمه: او همدارنګه د "حَظّ" لفظ په ظاء سره دی نه هغه "حَضّ" چې وروسته په "طَعَام" دی وليچه دا په ضاد سره ده" او په "ضَنِيْنٍ" کې اختلاف مشهور دی. هغه دا چه په قراوو کې ابن کثیر مکی او ابو عمرو بصري او کسائی دا په ظاء سره وائی. او باقی قراء يې په ضاد سره وائي،

اللّٰهم اغفر لكاتبه ولمؤلفه ولمستمعه ولمن سعى فيه.

الناشر: مكتبة القراءت والتجويد كوشته.

۱۰ بَابُ التَّحذِيرَاتِ

د هغه شیانو بیان چه د هغو څخه ځان ساتل پکار دي.

۶۰
وَاِنْ تَلَاقَیَا الْبَیَانُ لَازِمْ
اَنْقَضَ ظَهْرَكَ یَعَضُّ الظَّالِمْ

ترجمه: او که چیرې ضاد او ظاء دواړه سره یو ځای شي د دواړو بیانول
ښه جلا جلا ظاهرول ضروري دي. د دواړو د یو ځای اشلو مثال لکه
"اَنْقَضَ ظَهْرَكَ" او "یَعَضُّ الظَّالِمُ"

۶۱
وَاضْطُرَّ مَعْ وَعَظْتَ مَعْ اَفَضْتُمْ
وَصَفِّ هَا جِبَاهُهُمْ عَلَيْهِمْ

ترجمه: او همدارنګه ښه صفا ادا کول ضروري دي "ضاد" د "اُضْطُرَّ"
او ظاء د "وَعَظْتَ" سره د ضاد د "اَفَضْتُمْ" او صفا صفا ادا کړه ته
هاء د "جِبَاهُهُمْ" او هاء د "عَلَيْهِمْ"

پوهسه: چې مصنف د نمونې په شان څو مثالونه د "ضاد، ظاء او د هاء"
ذکر کړه لکن حصر په دې مثالو کې نه دی بلکه متشابه الصوت حروف
چې هر څه وي د هغو جلا والی د یو بل څخه ضروري دی وَاللهُ اَعْلَمُ

احقر فضل الحق حقاني غفرله الباري.

بَابٌ فِي حُكْمِ النُّونِ وَالْمِيمِ الْمُشَدَّدَتَيْنِ مَعَ أَحْكَامِ الْمِيمِ السَّاكِنَةِ ۱۱

باب دی په بیان د نون او میم مشددتین او د میم ساکن د احکامو بیان

۶۲
وَأَظْهِرِ الْغُنَّةَ مِنْ نُونٍ وَمِنْ
مِيمٍ إِذَا مَا شُدِّدَا وَأَخْفِيَنْ

ترجمه: او ته ښه ښکاره کړه (یعنی د یوه الف برابر ئې اداکه) غُنه په نون او میم کی. څه وخت چی دوی دواړه ته شدور کړه سی یعنی چه مشدد دوی. او ته ضرور اخفاء وکه په"

۶۳
الْمِيمَ إِنْ تَسْكُنْ بِغُنَّةٍ لَدَى
بَاءٍ عَلَى الْمُخْتَارِ مِنْ أَهْلِ الْأَدَا

ترجمه: میم کی که چیری د امیم ساکن ؤ وسره د غنی په نزد یعنی چی تر میم ساکنه وروسته باء راسی او دا اخفاء په غنه غوره او مختاره قول د اهل اداء ده-

۶۴
وَأَظْهِرَنْهَا عِنْدَ بَاقِي الْأَحْرُفِ
وَاحْذَرْ لَدَى وَاوٍ وَفَا أَنْ تَخْتَفِي

ترجمه: او په میم کی ضرور اظهار کوه یعنی په اظهار سره یه وایه د باقی حروفو

سره - او ځان وساته د واو، او فا، چې وروسته تر میم راسي د دی ځخه چه
ته اخفاء وکړي.

پوهسه: چې مصنف دلته په دی شعر کې اشاره وړی ته وکړه چې هغه قاعده
د «بَوَف»، کې چې دری مذهبه دی (۱) مخفیین په ټولو کې اخفاء کول پر
خپل عموم صحیح نه دی، (۲) مظهرین، په ټولو کی اظهار کول هم صحیح نه دی
(۳) دا چه په «باء» کې اخفاء کول او په نورو ټولو کی اظهار کول هغه غوره
مذهب دی. (حقانی) او محرکین چې میم ته په دریو قسم حرکت ورکوی هغوی باطل دی.

باب احکام
النُّونِ السَّاكِنَةِ وَالتَّنْوِينِ (۱۲)

باب دی په بیان کې د احکامو د نون ساکنه او تنوین

(۶۵)
وَحُكْمُ تَنْوِينٍ وَنُونٍ يُلْفَى
أَظْهَارٌ ادْغَامٌ وَقَلْبٌ إِخْفَا

ترجمه: او حکم د تنوین او نون ساکن هر کله چه د «الف باء» د ۲۹ حروفو سره یو ځای سی (۴) حکمه دی، اظهار دی، ادغام دی، قلب دی، اخفاء ده.

(۶۶)
فَعِنْدَ حَرْفِ الْحَلْقِ أَظْهِرْ وَادَّغِمْ
فِي اللَّامِ وَالرَّا لَا بِغُنَّةٍ لَزِمْ

ترجمه: پس په نزد د حروف حلقي ته اظهار وکړه په نون ساکن او تنوین دواړو کې

اوته ضرور ادغام وکه په لام او په راء کی بیله غُنّې یعنی ادغام کامل چې بل نوم یه ادغام تام هم دی، او دا لازم دی یعنی ټولو افرادو ته شامل دی.

وَاَدْغِمَنْ بِغُنَّةٍ فِیْ یُوْمِنْ
اِلَّا بِکِلْمَةٍ کَدُنْیَا عَنْوَنُوْا (۶۷)

ترجمه: اوته ضرور ادغام وکه سره د غُنی د "یُوْمِنُ" په څلورو حروفو کی یعنی ی، و، م، ن". لکن دا ادغام نه کیږی که چیری دا نون ساکن او تنوین په یوه کلمه کی وی دیوی کلمی مثال لکه "کَدُنْیَا، عَنْوَنُوْا" په بعضی نسخو کی "صِنْوَنُوْا" راغلی کوم چې بهتره هم دا غه دی.

فائده: خلاصه دا چې په قرآن کریم کی د نون ساکن او تنوین وروسته حروف "یَرْمَلُوْنَ" په یوه کلمه څلور ځایه راغلی دی چې ادغام نه په کښی کیږی هغه دادی "دُنْیَا، قِنْوَانٌ، بُنْیَانٌ، صِنْوَانٌ" وجه یه علامه شاطبیؒ داسی وائی: خَوْفَ اشْتِبَاهٍ بِالْمُضَاعَفِ اَثْقَلَا. چې تر ادغام وروسته بیا دا نه معلومیږی چې دا مضاعف دی دوی یا ګانی دا صلی کلمی څخه په کښی وی که په قاعده د "یَرْمَلُوْنَ" ادغام په کښی سوی دی. او که څوک ووائی چه په غُنه سره بې فرق وسی: جواب دادی چې په غنه سره خو یه فرق کیږی لکن خو لیری سری احساس د غنی په سبب د بُعد نه سی کولای. همدا رنګه بعض قراء لکه "خَلَفْ" هغه قطعًا دا دغام ناقص (یعنی ادغام مع الغنه) قائل نه دی نو بیا به فرق څرنګه راسی. هٰذا مَا عِنْدِیْ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ۔

احقر الانام فضل الحق حقانی غفر لہ الباری

(٦٨)

وَالْقَلْبُ عِنْدَ الْبَا بِغُنَّةٍ كَذَا
الْاِخْفَا لَدَا بَاقِي الْحُرُوفِ اُخِذَا

ترجمه: او اقلاب په نزد د "باء" کی دی سره د غنی هر کله چی د نون ساکن او تنوین وروسته راسی "با" نو دا نون ساکن او تنوین په میم سره بدلیږی. او همدا رنګه په پاته حروفو کی اخفا اخستل سویده۔

تشریح: خلاصه دا سو چی د الف با په ۲۹ حروفو کی په شپږ حروفو کی اظهار دی وجه یې دا ده چی د نون ساکن او تنوین مخرج د حروف حلقی څخه لیری دی. په شپږ حروف "یَرْمَلُوْنَ" کی ادغام دی وجه یې قرب مخرج دی. په "ب" کی حکم تنوین او نون ساکن په میم سره بدلیږی، چی میم مخرجًا اتحاد د "با" سره لری او دیوی وجهی یعنی غُنی مناسبت د نون ساکن سره لري۔ الف تر نون ساکن او تنوین وروسته نه سی راتلای ولی التقاء ساکنین راځی علیٰ غیر حده۔ پاته پنځلس[۱۵] حروفو کی اخفاء کیږی ولی نه داسی بعد لری لکه حروف حلقی او نه داسی قرب لري لکه یَرْمَلُوْنَ او د اخفاء تعریف هم دا څه دی "حَالَةٌ بَيْنَ الْاِظْهَارِ وَالْاِدْغَامِ" (حقانی)

د نون ساکن او تنوین فرق: (۱) نون ساکن په منځ او اخیر کی راتلای سی عام دی تنوین یوازی په اخیر کی راځی. ۲۔ نون اصلی او زائد دواړه راتلای سی تنوین یوازی زائد وی. ۳. نون په اسم او فعل او حرف ټولو کی راتلای سی تنوین خاص دی په اسم پوری. ۴. نون رسمًا خانته شکل لری او تنوین ځان ته رسم نه لري. ۵. نون وقفًا او وصلًا ویل کیږی او تنوین نه ویل کیږی الا نصبًا. ۶۔ نون د تاکید د پاره هم راځی نه تنوین چی هغه د تاکید د پاره نه راځی۔ ۷. نون د الف و لام سره جمع کیږی نه تنوین (۸) نون متحرک هم وی ساکن هم وی او تنوین یوازی ساکن وی ۱۲ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ احقر فضل الحق حقانی غفرلهٗ۔

(۱۳) بَابُ الْمَدَّاتِ

باب دی په بیان د مدونو کې۔

(٦٩)
وَالْمَدُّ لَازِمٌ وَّوَاجِبٌ اَتٰی
وَجَآئِزٌ وَّهُوَ وَقَصْرٌ ثَبَتَا

ترجمه: او مد لازم هم دی او واجب هم دی او دا دواړه قسمه راغلی دی او جائز هم دی۔ په دې جائز کښې مد کول او قصر کول دا دواړه جائز ثابت دي۔

(٧٠)
فَلَازِمٌ اِنْ جَآءَ بَعْدَ حَرْفِ مَدّ
سَاكِنُ حَالَيْنِ وَ بِالطُّوْلِ يُمَدّ

ترجمه: نو مد لازم دی که چیری راغی و روستو تر حرف مد څخه ساکن داسې ساکن چه په دواړو حالتو کې یعنی په وقف او وصل دواړو حالتو کې ثابته وی۔ چې دا ساکن مقابل دی د هغه ساکن چې صرف په وقف کې وی نه په وصل کې۔ او په طول سره به دی کی مد کیږی یعنی قصر پیه نه دی جائز۔

(٧١)
وَوَاجِبٌ اِنْ جَآءَ قَبْلَ هَمْزَةٍ
مُتَّصِلًا اِنْ جُمِعَا بِكَلِمَةٍ

ترجمه: او مد واجب دی که چیری راسی مخته تر حرف مده همزه۔ په داسې حال کې چه متصل وی دی ته مد متصل وائي که چیری محل مد او همزه په یوه کلمه کې وَ

(۷۲)

وَجَائِزٌ إِذَا أَتَى مُنفَصِلَا
أَوْ عَرَضَ السُّكُونُ وَقْفًا مُسْجَلَا

ترجمه: او مد جائز دی هر کله چه راسی همځ حرف مده د همزی ځخه جلا او یا عارض سی سکون (د حرف مد یا لین وروسته) په وقف کبنی یا د وقف له سببه. په دا سی حال کی چی دا سکون مطلق یعنی بی قیده او عام کړه سوی دی

(۱٤)

باب معرفة الوقف والابتداء

باب دی په بیان د وقف او ابتداء پیژندلو کی

(۷۳)

وَبَعْدَ تَجْوِيدِكَ لِلْحُرُوفِ
لَا بُدَّ مِنْ مَعْرِفَةِ الْوُقُوفِ

ترجمه: او وروسته تر تجوید (کتره کولو) د حروفو وروسته. چاره نسته تا لره د پیژندلو ځخه د وقف او ابتداء نقولعدو د پیژندلو ځخه.

پوهسه:

چی د علم تجوید اصل مقصد د حروفو مخارج صحیح کیدل دی او همدا رنګه د هغو صفتونه ادا کول. علم اوقاف ځانته علم دی ځانته مستقل کتابونه لري. لکه علم رسم الخط، لکه علم قراءت، چی ځانته علمونه دی او ځانته کتابونه لري. لکن څرنګه چی مطلقا تلاوت کوونکی وروته زیات احتیاج لری ځکه یه مصنفین د کتابونو په اخرکی دا بحث راوړی ۲ حقر فضل الحق حقانی غفرله

وَالْاِبْتِدَاءِ وَهِیَ تُقْسَمُ اِذَنْ
ثَلَاثَۃً تَامٌ وَکَافٍ وَحَسَنْ (٧٤)

ترجمہ: او دا وقوف او س تقسیم کړل سوي دی و دری قسمو ته یو تام دی دوهم کافی دی دریم حسن دئ.

وَهِیَ لِمَا تَمَّ فَاِنْ لَمْ یُوجَدِ
تَعَلُّقٌ اَوْ کَانَ مَعْنًی فَابْتَدِیْ (٧٥)

ترجمہ: او دا دری قسمونه دوقف هغه وخت دی چی هرکله کلام پوره سي. او که چیری پیدا نه سی څه قسم تعلق (نه لفظی نه معنوي) یا تعلق خو وی دمعنی په لحاظ سره نو ابتداء وکړه د ما بعد څخه.

فَالتَّامُ فَالْکَافِیْ وَلَفْظًا فَامْنَعَنْ
اِلَّا رُؤُسَ الْاٰیِ جَوِّزْ فَالْحَسَنْ (٧٦)

ترجمہ: نو په دی دواړو کښی اول تام. او دوهم کافی دی. او که چیری تعلق د لفظ او ترکیب په لحاظ سره وو نو ضروری ته منع کړه د ما بعد څخه ابتداء کول (ماسوا د هغه آیتونو د سرو څخه چی هلته د وړو سته څخه د هغه ابتداء کول جائز ده. نو دا دریم قسم وقف حسن دئ.

رب اللّٰهم اغفر للمولف وللکاتبه کتبه الحقر الاثام فضل الحق حقانی
الناشر: مکتبة القراءت والتجوید کوهاټ.

٧٧
وَغَيْرُ مَا تَمَّ قَبِيحٌ وَلَهُ
يُوقَفُ مُضْطَرًّا وَيُبْدَا قَبْلَهُ

ترجمه: او ماسوا د هغه کلام څخه چه پوره سوی وي. یعني کلام ناتمام وي، پر هغه باندی وقف کول قبیح دی. او پر هغه باندی صرف د مجبورۍ په حالت کښی وقف کیدلای سی. او د وقف کولو څخه وروسته به بیا اعاده د ما قبل اٰیت کریمه کوي. د ما بعد څخه ابتداء کول جائز نه ده.

٧٨
وَلَيْسَ فِي الْقُرْاٰنِ مِنْ وَقْفٍ وَجَبْ
وَلَا حَرَامٌ غَيْرُ مَا لَهُ سَبَبْ

ترجمه او نسته په قرآن کښی څه داسی وقف واجب دی. او نه څه داسی وقف چه حرام وي. ماسوا د هغه وقف څخه چه د هغه د وجوب یا حرمت د پاره یو سبب وي.

بَابُ مَعْرِفَةِ
الْمَقْطُوعِ وَالْمَوْصُولِ وَالتَّاءِ الْمَجْرُورَةِ

١٥

باب دی په بیان د پیژندلو د مقطوع او موصول او تاء مجروره

٧٩
وَاعْرِفْ لِمَقْطُوعٍ وَّمَوْصُولٍ وَّتَا
فِي مُصْحَفِ الْاِمَامِ فِيْمَا قَدْ اَتٰى

ترجمه: او نه ویشته مقطوع (یعنی جلا جلا لیکل سوي) او موصول یعنی ګډ لیکل سوي. او تاءِ مجروره یعنی اوږده تلو. په مصحف د امام کښې چې کوم راغلي دي.

پوهسه: چې د مقطوع او موصول پیژندنه ډېره ضروري ده ولې چې کوم کلمه چې موصوله لیکلې وي لکه "فِيمَا" د لته پر "فِي" باندې وقف جائز نه دی ولې چې د "مَا" سره موصوله لیکلې ده. او که چیرې مقطوع وي لکه "فِي مَا" د لته وقف پر "فِي" باندې جائز دی ولې چې جلا لیکلې ده همدارنګه نورې کلماتې. "حقانی"

پوهسه: چې لکه مقطوع او موصول پیژندنه چې ضروري ده همدارنګه د تاءِ مجروره یعنی اوږده "ت" او ګول "ة" پیژندنه هم ضروري ده ولې چې اوږده تا په وقف کې په هیڅ شي نه بدلیږي او ګول ة په وقف کې په هاء سره بدلیږي. "حقانی"

فَاقْطَعْ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ أَنْ لَا
مَعْ مَلْجَأٍ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا (٨٠)

ترجمه: نو ته جلا ولیکه په لسو کلمو کې هغه "أَنْ" دی د "لَا" سره کوم چې د "مَلْجَأ" سره او "لَا إِلٰهَ إِلَّا".

د اول مثال په سورة توبه کې دی "أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللّٰهِ إِلَّا إِلَيْهِ" او دویم مثال د سورة هود کښې "أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ".

پوهسه: چې په دې دواړو مثالونو کې د مقطوع پر اوله کلمه باندې وقف صحیح دی ولې چې اخیرې کلمې دي. او د موصول په دواړو صورتونو اولې کلمې پر اخر باندې وقف جائز نه دی ولې چې اخیریه د کلمې وسط او س بدل کیږي "جوتر حمه"

(۸۱)

وَتَعْبُدُوْا يٰسِيْنَ ثَانِیْ هُوْدَ لَا
يُشْرِكْنَ يُشْرِكْ يَدْخُلَنْ تَعْلُوْا لَا

ترجمه: او همدارنګه «اَنْ لَا تَعْبُدُوْا» په سورة يٰسين کښې. او په دويم ځای کښې د سورة هود «اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اللّٰهَ» او په سورة ممتحنه کې دی «اَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا» او په سورة حج «اَنْ لَا تُشْرِكْ بِیْ شَيْئًا» او په سورة قلم کې «اَنْ لَا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ» او په سورة دخان کې «اَنْ لَا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ» په دی کې اَنْ د لا څخه جلا ليکل سوی دی.

(۸۲)

اَنْ لَا يَقُوْلُوْا لَا اَقُوْلَ اِنْ مَّا
بِالرَّعْدِ وَالْمَفْتُوْحَ صِلْ وَعَنْ مَّا

ترجمه: همدارنګه جلا دی نهم ځای «اَنْ» د «لَا» څخه په سورة اعراف کې «اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ» او لسم په دا غه سورت کې «اَنْ لَا اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ»: د دی لسو ځايو څخه علاوه نور په ټولو ځايو کې «اَنْ» د «لَا» سره موصول دی همدارنګه په اتفاق د قراوو «اِنْ» د «مَا» څخه جلا ليکل سوی دی په سورة رعد کې لکه «وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِیْ» د دی نه علاوه ټول موصول دی او «اَمَّا» د همزه په زور سره چه اصل ئې «اَمْ» دی د «مَا» سره موصول دی. او «عَنْ» د «مَا»

(۸۳)

نُهُوْا اِقْطَعُوْا مِنْ مَّا بِرُوْمٍ وَّالنِّسَا
خُلْفُ الْمُنَافِقِيْنَ اَمْ مَّنْ اَسَّسَا

ترجمه: او ته جلا وليکه «عَنْ» د «مَا» څخه په «عَنْ مَّا نُهُوْا» کی په سورة اعراف کی.

همدار نګه «مِنْ» جار د «مَا» څخه جلا که. په سورة روم او سورة نساء کې لکه «مِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَاءَ» او دويم د نساء لکه «فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيَاتِكُمْ»

خلف المنافقين الخ او په سورة منافقين کې چه «مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ» دی په هغه کې اختلاف دی په بعضې مصاحفو کې مقطوع او په بعضو کې موصول وی

اَمْ مَّنْ الخ او همدارنګه جلا که «اَمْ» د «مَنْ» څخه څلور ځایه یو ځای «اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ» دی نور ځایونه چې راځي.

فُصِّلَتِ النِّسَا وَذِبْحٍ حَيْثُ مَا
وَاَنْ لَّمِ الْمَفْتُوْحَ كَسْرُ اِنَّ مَا (۸۴)

ترجمه: دويم اَمْ د مَنْ څخه مقطوع هغه دی کوم چه په سورة فُصِّلَتْ کې «اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا» دی. او دريم په سورة نساء کې «اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا». او څلورم په سورة ذبح (والصافات) کې «اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا» په دې سورة کې څرنګه چې لفظ د ذبح راغلی دی. «وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ» ځکه ورته سورة ذبح مصنف ورته ووييل.

